# E: ـ دافغانستان ترانزيتي سرچينې

**<u>محمد انور وليد</u> : ١٣٩٧ لمريزكال ـ د تلې ٨ مه**

**پنځمه برخه :**

که څه هم افغانستان د آسيا په زړه کې پروت يوداسې هېواد دئ چې له څلوروخواووڅخه په وچه پورې مېښتی اومستقيماً سمندرته لاره نـه لـري ، خوسترا تيژيـک موقعيت يـې داسـې دئ چې د سوئل لـه خوا د هند لـه سمندرګی سره د تفتان اوبلوچستان له لارې ، د پارس خليج اوعرب بحيره د ايران له لارې ، توره بحيره اومديترانه بحيره د ترکمنستان اوترکيې له لارې ،همداسې منځنۍ آسيا ، اروپايي هېوادونـه، منځنـی ختيځ اوعربـي تـاپو وزمـه د ايران ، ترکمنستان ، ازبېکستان اوتاجکستان له لارې اوچين مستقيماً د واخان له لارې سره تړي . پخواهم دغرب اوشرق تجارتي اوسوداګريزمالونه ټول له همدې لارې سره تبادله کېدل .ځکه ترټولولنډه اقتصادي لاره د نړۍ د ټولو هېوادوله پاره همدغه ننۍ افغانستان دئ چې شرق يې له غرب سره تړلی .

له همدې کبله پرټوله سيمه اونړۍ باندې واجبه ده چې ددې لارې ستراتيژيکي ارزښت ته په درنـه سترګه وګوري اوپه ګډه د افغانستان امنيت اوټيکاود سيمې او نړۍ د امنيت اوټيکاوراوستوپه خاطرمنځته راوړي ، ځکه چې د سيمې اوټولې نـړۍ امنيت اوټيکاود افغانستان له ثبات اوټيکاوسره تړلی دئ .که افغانستان روغ وي ، ټوله آسيا ، سيمه اونـړۍ ورسره روغه ده ، اوکه افغانستان ناروغ وي ، نوټوله آسيا ، سيمه نړۍ ورسره نـاروغه ده .

افغانستان خپله يوشتمن هېواد دئ چې پـه خپلـه خـاوره کې د ترېليونـو ډالـرو پـه ارزښـت ډېرې طبيعي سرچينې او ژېرمې لري ، که چېرته سيمه اونړۍ له افغانستان سره مرستې کوي ، نو لومړی دې زموږ د هېواد پـه ثبات را وستوکې لـه موږ سره مرسته وکړي ، ځکـه نـن سبا تربـل هرڅـه مخکې موږثبـات اوامنيتي ټيکـاو راوستوته ډېره اړتيـا اولېوالتيـا لـرو. کـه چېرته امنيت نه وي د تېروڅلورو لسيزو پـه څېربـه لـه موږڅخـه ټول ملي کارونـه شاته پاتې وي اود خپلوملي پروژوپلي کولوبندوبست به نه شوکولی ، ځکه کورني او بهرنـي دوښمنان بـه موږ د خپلوملي پروژو پلان کولـواوعملي کولوتـه پـه قلاره نه پرېږدي اوموږمجبوريوچې په داسې حالاتوکې موږد بيا رغونې پرځای له هرې ممکنـه لارې څخـه لـه دښمن سره مقابلې ته ترجيح ورکړو .

کـه چېرتـه د سيمې هېوادونـه اونـړۍ افغانستان تـه پـه رېښتيا سره صادق وي ، نـو پـه افغانستان کې دې د افغانستان د حکومت په ټينګه ملاتړوکړي ، په حکومت کې دې حکومت اونورموازي حکومتونـه نـه ورتـه جوړوي ، پردۍ جګړې تـه دې د پای ټکی کېږدي ، خپلې وسلې د ې د افغانستان د جګړې پـه تودولوکې نـه پلوري ، اوخپل ذروي ، آزمېښتونه دې زموږ په خاوره کې نه ترسره کوي ، د هرډول کورنيواوبهرنيولاسوهنومخه دې ونيسي ، اود تخريبونـو پرځـای دې پـه ګډه د افغانستان د حکومت لاسنيوی وکړي .

دا خوټولوتـه معلومـه ده چې افغانستان پخـوا ځمکنـۍ اوهـوايي فعـالې مواصـلاتي لارې ، پـه وچـه کې بندرونـه اوهـوائي ترانزيت درلود . خواوس چې زموږد تجارت د ملاتيراو ستون فقرات په منځ کې پرديورا بانـدې تېل شويوجګړوبوټ مـات کـړی اولـه تېروڅلورولسيزورا پـه ايسـته پرلـه پسـې تخريـب شـوی دئ ، دا ددې معنـا نـه لـري چې موږمواصـلاتي لارې اواقتصادي شا رګونه نه لرل ، بلکې هرڅه په نسبي توګـه فعال موجود وو. خود ويجاړېدواولـه منځـه وړودېرې هڅې يې کينه کښوليرې اونږدې ګاونډيانو( ايران ، پاکستان ، تاجکستان اوروسيې ) وکړې ، ترڅود جګړوځپلي افغانستان د توليد اوصادراتودروازې دتل له پاره را باندې وتړي اوپرځـای يـې ترډېروخـت پـورې د خپلوغيرمعيـاري بې کيفيتـه توکوپلورلوپـه وارداتي مـارکېټ باندې بدل کړي .

زمونږ ځيني ګاونډيان پـه افغانسـتان کـي افغاني توليد نـه غواړي ، افغانی صـادرات نـه غواړي ، د افغانسـتان د صـادراتواو وارداتوله پاره ترانزيتي لارې هم نه غواړي ، بلکي ورباندې تړلي يې دي ، له همدې کبله يې پردی تروريستي جګړې پـه کې تنظيم اوپيل کړې ، سولې اود ملي يووالي سره پاشلوته يې داسي داموته اينبي چي کورپه کوريي د بدی بريدونه پـه کې کيږي. ترڅوله يوي خوا افغانستان شاته پري وغورځوي اوله بل پلوه د افغانستان له اوبو، کانونواومواصلاتي لارواوهوا يې دهليزونوڅخه پرته له کوم ټکس ورکولوغيرقانوني اوناوړه ګټې پورته کړي .

هو! دغوحسودوګاونډيانوترنن پورې همدا کارونـه کـړي دي . دوی پـه افغانستان کي د خلکو پـه پاکو رائيو مردمـي ملـي حکومت نه غواړي ، بلکي تش په نامـه يوداسـي مزدورنظام راوستل پـه افغانستان کي غواړي چي ريښتيني استعمارضد ملي مقاومتونـه پرې وځپي اويوازې ددوی خپلې ګټې په پټوسترګووررسره خوندي کړي .

## دغه ترانزيتي لارې په افغانستان کي دوه ډوله دي :

### الف : ـــ ځمکني دهليزونه :

دغه دهليزونه په افغانستان کي رينګ روډ ته ورته والی لري چي له کابل څخه پيل شوي اود افغانستان مشرقي ،جنوبي ، جنوب غربي ، غربي ، شمال غربي ، شمالي ، شمال شرقي اومرکزي برخي يې سره تړلي چي اساسي برخي ( پل او پلچک ) اود ځينـو پخـو ډمبرونوکـاريي د ظاهرشـاه پـه زمانــه کـي پيـل شـوی اوبشپړشـوی ؤ،خـوداؤد خـان هغواونـوروفرعي سرکونوجوړولوته وده ورکړه اوله پاکستان څخه يې د يوه ترانزيتي دهليزغوښتنه وکړه ، خوشوروي د خپلو پلو يانو پـه لاس د هغه د تخت اوبخت تخته ورباندې واړوله اودا ارمان يې د شاه امـان الله پـه څيرګورتـه ورسره تيت کړ. څـه چـي پـه فزيکـي لحـاظ رغـول شـوي وو، د هغـوی يـوازې رسـم د ځمکـي پـرمخ پـاتې شـو. هغـه ګړنـدي موټربـه چـي پخـوا پـه څلوروساعتونوکي له کابله ترکندهارپورې رسيدل ، د جګړوپرمهال هغه پـه (۱۶) ساعتونواوآن پـه (۲۴ ) ساعتونوکي د تخريب شويومواصلاتي لاروله کبله هم نه رسيدل .

ايران د خپلو قاچاقبرانود قاچاق له پاره د سيمرغ په نامه د ريګ ضد موټرافغانستان تـه را وارد کـړل چـي پرمـټ يـې ايرانـي استخباراتو د هلمند ، کجکي ، دوغارون ، کمال خان اوسلما بنـدونوروان کارونـه پـه ټپـه ودرول ، د افغانسـتان د منځنـی برخـي غربـي خواتـه ټولي بهيدونکي اوبـه يي لـه تيرو(۴۰) کـالو را پـه ايسـته پـه غيرقـانوني توګـه يـوازې د ځـان پـه ګټـه استعمال کړې اود افغانستان غربي دښتي د ايران د تخريبي کارونوترسره کولواومزاحمتونوله امله ترنن پورې همداسي بې حاصله اوشاړې پاتي دي چي له دې کبله افغانستان ته له تيرو(۴۰) کـالورا هيسـي پـه ميليـاردونوډالرملي تاوانونـه وراړول شوي دي .

ځکه افغانستان پخوا ګمرات اود ټکس اوما لياتو را ټولو فعال سيستمونـه ( مستوفيتونـه ) لـرل چـي د کورنيوعائداتولـه دغـه سرچينوڅخه د دولـت د مـأمورينو معاشـونه تاديـه کيدل اوهرسرحدي ګمـرک د کـال لـه (۶۰۰) ميليـون ډالـرو درواخلـه تـر( ۹۰۰ )ميليون ډالرو پورې عايدات لرل .

د بيلګي په توګه : د هرات د ګمرک کلنی عايد (۹۰۰) ميليون ډالره ته رسيده ، د سپين بولدک کلنی عائد لـه (۶۰۰ـــ۸۰۰ ) مبليون ډالرو پورې ؤ، د حيرتانود بندرکلنی عايد له (۹۰۰ ـــ ۱۰۰۰) مبليون ډآلروپورې رسيده ، د تـورخم د بنـدر کلنـی عايد له (۷۰۰ ـــ ۸۰۰) مبليون ډالرو پورې رسيدلی ؤ . کله چي موږددې عمده بندورونوهغه ټيټ کلنی عايد حساب کړ، د کال ټول (۳۱۰۰) مبليون ډالره کيدل .

اوس چـي ددې ملـي تـاوان (۴۰) کالـه پـوره شـول ، اومـوږ د (۳۱۰۰) ميليـون ډالـرو تـول تـاوان وسـنجاوه ، يـوازې د همدغوڅلورو بندرونوڅلويښت کلن ټکس اوماليه (۱۲۴۰۰۰) ميليارد ډالره شول چي متـأ سفانه (٪۱۰) د يـاد رقـم ددولـت خزانې ته نه دي لويدلي اوپاتي (٪۹۰) نوريي ټول د زورواکواو سيمه ئيزې مافيا له خوا حيف وميل شوي دي .

دا په داسي حال کي ده چي نړيوالي ټولني له افغانستان سره ټول ټال د خپل حضورپه دا تېر(۱۸) کلن بهيرکي تر(۶۰۰) ميليارد ډالرو زيات لګښتونه نه دي کړي چي د افغانستان د ټولو عايداتو په پرتله دا رقم ددې هېواد له نوروکورنيوعايداتوڅخه پرته يوازې د افغانستان دګمرکاتوله کلني عايد څخه ( پنځه ) برابره لږدئ . په داسي حال کي چي نړيوالي ټولني دغه (۶۰۰) ميليارد ډالره يوازې د افغانستان په بيا رغونه باندې هم نه دي لګولي ، بلکي دغه پيش شرط پيسي يې په خپلو پوځي اونوروااقتصادي اوسياسي موخو باندې هم لګولي دي چي اوس يې پره يوازې د افغانستان پرحکومت باندې ورغورځوي .

نړيواله ټولنه که په ريښتيا غواړي چي له افغانستان سره مرسته وکړي نو د هوايي ترانزيت (۱۸) کلن ټکس اوماليه دې افغان دولت ته په پوره ډول ورکړي ، خپل احسان دې پرافغان دولت باندې نه وراچوي ، افغانستان خپله له دې لارې خپل ځان تمويلولی شي . ځکه دوی په زرګونو پروازونه د افغانستان په خاوره اوهوايي قلمروکي کړي دي ، خوټکس اوماليه يې نه ده ورکړې .

پردې سربېره افغانستان د خوست ، غلام خان ، نيمروز، فراه ، تورغنډۍ ، شېرخان بندر، اونورو په څېرفرعي بندرونه هم لرل چي له هغوڅخه هم ګمرکي عايدات ترلاسه کېدل ، ولی د پاچاهي ګردشي ، انارشيواوکورني اړدوړله امله ټول پرديوشخصي جيبونوته لوېدلي . که چېرته دغه فرعي بندرونه هم په رسمي توګه له پخوا را هيسي سم مديريت شوي وای ، اوس به د افغانستان د ټولو ګمرکاتوکلني مالياتي عايدات تر(۵۰۰۰) ميليون ډالروهم وراوښتي وای چي دا رقم د افغانستان د ټول کورني مايحتياج له پاره کافی وُ اوهرڅه موږد خپلي کورنۍ بودجي پرمټ رغولی شوای . ځکه افغانستان پخوا له خپلوشپږوپُلوان شريکوګاونډيوهېوادوسره تجارتي رغنده اړيکي لرلي ، پرهغې سر بېره يې د سيمي اوله سيمي ورآخوا له نورو نړۍ لکه ، جرمنی ، پخواني شوروي اتحاد ، جاپان ، فرانسي ، سويس ، عراق ، هالنډ ، دانمارک او بريتانيي سره هم د تجارتي راکړې ورکړې له پاره د وچي اواوبوله لارې تجارتي دهلېزونه لرل چي د افغاني سوداګروکلنی پانګه په کي د پام وړبلل کېدله .

که چېرته پرافغانستان باندې دغه پردی وارداتي جګړې نه وای ورتپل شوې اوخپلومواصلاتي لارواوګمرکاتوجوړولواوپخولوته يې پرله پسي د پخوا په څېردوام ورکړی وای ، اوس به يوازې د ځمکني ترانزيت له لارې د يوه منظم مديريتي ملي پلان په چوکاټ کي د زرګونوميليارډوډالروکورني عايد ترلاسه کولو څښتن شوی وُ، افغانستان به اوس د نړۍ له نورولوېډليوهېوادوسره مرستي کولي ځکه د خپلو کورنيوعايداتواوتوليداتوله برکته به په خپلو پښو ولاړيوخپلواک هېواد وُ .

پردې سربېره افغانستان په کورد ننه څه نا څه خپل توليدات ، صادرات او له بهره واردات لري چي لېږد را لېږد يې له همدغو مواصلاتي ځمکنيواو هوايي لاروصورت مومي . که چېرته زموږمواصلاتي سيستمونه په معياري اونړيواله کچه ورغول شي ، زموږد سوداګرومالونه به سيمه ئيزواونړيوالوبازارونواومارکېټونوته پروخت اوآسانی سره لارې ومومي ، خصوصي سکتوربه وده وکړي ، سيمه ئيزاونړيوال پانګوال به په افغانستان کي د ترانزيتي چارود لوړکيفيت پيداکولوپه موخه په هېواد کي پانګوني وکړي اوزموږد ملي سوداګروپانګې به ورسره نورې هم پياوړې اوزياتي شي .

**ب : ــ هوايي دهلېزونه :**

په مشهد کي افغان څېړونکي بصيراحمد حسين زاده د هوايي چلند د تاريخي نړيوالي ورځي په تړاو په خپله يوه کره کتنه اوخپره کړې مقاله کي د افغانستان د هوايي چلند په برخه کي د ( فراز و فرود هوا پيمايی افغانستان ) ترسرليک لاندې ليکلي چي :




(( آریانا شرکت په افغانستان کې په (۱۳۳۴) لمریزکال کې په فعالیت پیل کړی ، په (۱۳۳۵) لمریزکال کې نوموړی شرکت خپلواکه ملکي هوایي اداره جوړه شوه ، په (۱۳۳۹) لمریز کال کې د امریکې د متحده ایالاتو لـه خوا د ملکـي هوایي چلند زده کړې پیل شوې چې له دې سره له ډېرو هېوادو سره دافغانستان د هوایي چلند قراردادونـه لاسلیک شول ، پـه دې معنـا چې ؛ (( له نورو هېوادو سره د لېږد را لېږد د هوایي چلند د قراردادونولاسلیک او تسلسل لـه پاکستان، پخواني شوروی اتحاد ، ایران، ترکیې، هند، اتریش، هالند، لوېديځ آلمان ، لبنان، یوګسلاویا ، چکسلواکیا، فرانسې، سویس، عراق، سوئد، دانمارک او بریتانیې سره د ( ۱۳۲۵ ) څخه تر(۱۳۵۰) لمریزکال پورې پرله پسې جاري روان ؤ.))
له (۱۳۴۵) لمریزکال څخه تر(۱۳۵۴) لمریزکال پورې ټول ټال (۳۹) هوایي ډګرونه جوړشول .

همدا اوس افغانستان (۶۵) نظامي او ملکي هوایي ډګرونه لري چې د بګرام ، هرات ، شنډنډ ، کندهار، کابل اومزارشریف هوایي ډګرونه یې نړیوال دي اوهره ورځ پـه کورد ننـه اوخارج تـه د لېږد را لېږد الـوتنې لـري ، خوسربېره پردې (۴۵ ) نورملکي هوایي ډګونه لري چې په داخل کې کارترې اخیستل کېږي .

اوس مهال په افغانستان کې پرآریانا افغان هوایي شرکت سربېره د پـامیر، کـام آئیراوصـافي پـه نـوم شرکتونـه هم فعال دي چې ملکي خدمات ترسره کوي . افغانستان له پخواني شوروي اتحـاد څخـه یـوه بوئېنګ الوتکـه پېرلـې وه چې تـر(۷۰۰) د زیاتو کسانو د لېږد را لېږد ظرفیت یې درلود ، خومتأ سفانه چې استاد برهان الـدین ربـاني هغه الوتکـه د خپل واک پرمهـال پر آیران باندې وپلورله .

کله چې پخواني شوروي اتحاد په افغانستان کې پوځي ماتې وخوړلـه ، افغانستان خپلې اولـه روسـانو ورپـاتې د (۴۵۰) پـه شـاوخوا کـې جنګـي اوملکـي روغـې الـوتکې او (۴۰۰۰) زغـره وال جوړټانکونـه لـرل ، خولـه پاکستان سره د وخـت د چاروا‌کوله خوا د واک پرسرد نا مقدسې غیرملي معاملې اوکورنیوجګړوله امله ټول تباه اوبرباد شول .

افغانستان تر( ۲۰۰۱ ) زیږد یزکال پورې په بګرام ، کندهاراو شینډنډ کـې (۳) سترې نظامي پایګاه وې لرلـې چې اوس د شمالي اتلانتیـک ( نـاټو) لـه راتګ سره د دغـو پایګـاه ووشمېرد کابـل اومزارشریف د نړیوالوهوایي ډګرونوپـه شمول (شپږو) ته ورسېد . خو په هلمند کې د بسش کمپ د هلمند په موسی قلا ؤلسوالۍ کې کجکي بند ته نږدې پروت دئ چې لـه (۲۰۰۱) زیږدیزکـال را پـه ایسـته انګرېزي پـوځ پـه کـې مېشت اودا مرکزيـې د مخدره توکواوخامو یورانیمـود قاچـاق پـه مرکزباندې بدل کړی دئ ، چې ورسره جوخت د هلمند د زراعتي پیداوارو ځـای کوکنـارو او تریـاکو نیـولی او د افغانستان د بشري ځوا ک ( یو پرلسمه ) برخه ، یعنې د افغانستان د ټول نفوس (درې نـیم مېلیونـه )خلـک یـې پـه نشـو پـړې اختـه اولـه کاره ولوول .

سربېره پردې افغانستان نورملکي هوایي ډګرونه هم لري چې موږ یې په لاندې ډول یادونه کوو:

دغزني هوایي ډګر، د غزني د سرده بند هوایي ډګر، د بامیانوهوایی ډګر، د جلال آباد هوایي ډګر، د هلمند د بوست هوایي ډګر، دغوریا فیروزکوه د چغچران هوایي ډګر، د بدخشان ددرواز هوایی ډګر، د فراه هوایي ډګر، د خوست صحرایي هوایي ډګر، د بدخشان د فیض آباد هوایي ډګر، د بدخشان د کران ومنجان د د ره زرهوایي ډګر، د بدخشان د خواهـان هوایي ډګر، د بدخشـان د شـغنان هوایي ډګر، د تالقـانوهوایی ډګر، د میمنـې هوایي ډګر، د بـادغیس د قلعـه نوهـوایي ډګر، د شبرغان هوایي ډګر، د ارزګان د ترین کوټ هوایي ډګر، اود نیمروزد زرنج هوایي ډګر.

**خو پـه دغوملـكي هوايي ډګرونـوكې ډېرى يې د پخواني شوروي اتحـاد ، پاكستان اونـاټوټلوالې د اشغال پرمهال د پوځي ډګرونو په توګه استعمال شوي دي .**

**نن سبا په ټوله نړۍ كې هره الوتنه چې د كوم هېواد هوايي حريم ته د ننه ترسره كيږي ، ټكس يې په نړيوالـه كچـه (۷۰۰) ډالرټاكل شوى دئ .**
**خو په افغانستان كې له تېرو(۴۰ ) كالو را په ايسته د رادارسيستم د نه موجوديت له كبله خپلسرې پردۍ الوتنې روانـې دي چې نه د الوتكې ټكس افغان دولت ته وركړشوى ، او نه هم سړي سر ( ۱۰) ډالره ) خاك پولي ، دا پـه داسې حال كې ده چې آفغانستان ته ناڅاپه ( ۱۲۰۰۰۰ ) روسي پوځيان راغلل ، زموږ د هېواد هوا يي اوځمكنى حريم يې اشغال كړ، ( لس ) كاله يې زموږ په هېواد كې پوځي ، استخباراتي ، سياسى اواقتصادي بوختيـا وې لرلـې ، هره ورځ پـه سلګونواو زرګونـو پروازونه كېدل ، خوافغان دولت ته نه چا د خپلې الوتكې ( ۷۰۰) ډالرټكس اوماليه وركړه اونـه هم سړي سر( ۱۰) ډالـره خاك پولي ؟ كه يې د وخت حكومتونو ته وركړې وي ، نوهغه بودجه څه شوه او چېرې غيب شوه ؟ ځكه دا خوكمې پيسـې نه دې .**
**خوماڃې خپله د هوايي چلند په تړاوكوم معلومات را ټول كړي او په دې برخـه كې مې خپلې څېړنـې وربانـدې ترسره كړې دي ، له افغان پيلوټانومې پوښتلي ، د معلوماتوغورچاڼ يې په لاندې ډول د درنولوستونكو مخې ته ږد م :**

**كه موږ ترزرګونو پروازونوهم تېرشواو د اوس مهال همغه د نن ورځې (۳۵۰) خپلسري پروازونـه پـه پام كې ونيسـواود يـوې ورځـې هرپروازپـه همدغـه (۷۰۰) ډالروحسـاب كـړو، نـود يـوې ورځـې د (۳۵۰) پروازونـو ټـول ټكس (۲۴۵۰۰۰) ډالركيږي . اوكه د يوه كال حساب كړونو(۸۹۴۲۵۰۰۰) ډالركيږي ، اوس روسانو دلته په افغانستان كې (۱۰) كاله نظامې حضور درلود ، (۳) كاله يې نورې سياسي ، اقتصادي اواستخباراتي بوختيـاوې لرلـې اوكـه پـه منځنـۍ كچـه يـې هره ورځ لږترلـږه (۳۵۰) پروازونــه ترسـره كـړي اود افغانسـتان خـاوره يــې كـارولې وي ، نــود (۱۳) كـالو ټـول ټكـس يــې ( ۱۱۶۲۵۲۵۰۰۰) ډالركيږي ، اوزه يقين لرم چې دغه ټكس روسانو افغان حكومت ته نه دئ وركړى .**

**همداسې پاكستانيانوهم د خپل اشغال پرمهال افغان حكومت ته د خپلوالوتنوټكس اوماليـه نـه ده وركړې او پنځـه كالـه يې د افغانستان هوايي اوځمكنى حريم پرته له ټكس اومالیې وركولومفت كارولى دي چې د پورته حساب له مخې پاكستان هم د افغانستان (۴۴۷۱۲۵۰۰۰) ډالره پوروړى دئ .**

**په همدغه ډول د امريكا په مشرۍ شمالي اتلانتيک ( ناټوټلواله ) له ( ۲۰۰۱ ) زيږديزكال را په ايسته ترنن پورې ( ۱۸) كاله كيږي چې په افغانستان كې پوځي ، سياسي ، اقتصادي اونـورې بوختيـاوې اوخپلسرې الوتنې لري ، چې د اشغال پـه لومړي سركې يې د الوتنوورځنى شمېرزرګونوته رسېده ، خواوس يې خپل پروازونه لږكړي دي چې پـه دغو پروازونـوكې د الـوتكې دعملې د لېږد را لېږد اوبـاربرۍ پروازونــه هم شـامل وو . ولـې د ټكـس ، مـاليې اوخـاک پـولۍ يـې هېڅ نـه دي محسوس شوي ، خوافغان حكومت ته امريكايـانواو ورسره ټلوالې د خپلو پروازونـواوعملې انتقـالولويوه پيسـه هم نـه ده وركړې ، ځكه ددوى دغيرمترقبه تلو راتلوپه اړه افغان حكومت ته هېڅ هم نـه ويل كېدل اونـه دا معلومـه وه چې دوى څـه وړي اوڅه بېرته راوړي ؟ كه يې وركړې وي ، نوپه كوم حساب د چا پـه اكونټ كې جمع شوې دي ؟ هغه شخصـي ؤ، كـه دولتي ؟**

**ښاغلي كرزي صيب اوورسره ټيم خويې په خپله (۱۳) كلنه واكمنۍ كې تل د نړيوال حاتم طايي د مرستوهميانۍ تـه سترګې نيولې وې خـود سيګارځراغ پـه لاس مفتشين يې نـه ليدل ، ځكـه دده د حكومت تنفس اوتغذيـه ټولـه لـه همغـه ځايـه وه ، بهرنۍ مرستې يې د خپل ځان اقتصادي زېربنأ ګڼله اوخپلوملي تداركاتو ته يې له سره ورپام هم نـه ؤ، خكـه خوخپلې مـالي سرچينې ترې هېرې وې اويا له سره هڅوپرې نه پوهېده . خو كلـه چې امريكايـانو د روسانو د وخت او خپلو پنځـه سويز جيولوجستيک ټيمونو معلومات سره را ټول كړل او د افغانستان د ځمكنيو زېرمو راپور يې خپوركړ، نـو بيـا كرزى صيب پرې خبرشوڃې افغانستان د څه باندې درى ترېليونو ډالرو په كچه ځمكنۍ زېرمې لري .**

**ناټوټلواله چې له تېرو(۱۸) كـالورا هيسې پـه افغانستان كې نظامي حضورلري ، هره ورځ د (۳۵۰) پروازونوپـه ترسره كولو سره د افغانستان خـاوره كـاروي ، اولـه هغې ورځـې وړانـدې چې افغان حكومت تـه يې د خپلې خـاورې د څوهوايي ملكي ډګرونود بېرته ورسپارلواجازه وركړه ، د افغانستان نورټول ډګرونـه په خپل سرد پرديوله خوا په غيرمسؤولانـه توګه**

مفت کارول کېدل چې له کبله يې د افغانستان تجارتي ، دولتي اونادولتي سکتورونوته په سوونواوزرګونوميليارده ډالرتاوانونه ورواړول .
که موږ په افغانستان کې د پرديوله خوا دورځې همدغه (۳۵۰) سوه خپلسري پروازونه في پروازپه (۷۰۰) ډالروحساب کړو، نوبايد له مخې يې دورځې ( ۲۴۵۰۰۰ ) ډالرعايد د افغانستان حکومت ته ورکړي واى ، اوکه دغه رقم ټکس په کال کې ضرب کړونوکلنۍ ماليه او ټکس به ( ۸۹۴۲۵۰۰۰ ) ډالروته لوړشوى ؤ، خواوس چې د ناټو ټلوالې په افغانستان کې (۱۸) کاله مخ په پوره کېدو دي ، نود (۱۸) کالو ټول ټکس يې (۷۱۵۴۰۰۰۰۰) امريکايي ډالروته بايد لوړشي ، چې له دې رقم څخه يې يوه پيسه هم افغان حکومت ته نه ده ورکړې چې پدې حساب ناټو ټلواله هم د هوايي ترانزيت له مخې په سوونوميليون ډالره د افغانستان پوروړې ده . او بايد دا پيسې چې د افغانستان خپل حق دى د افغانستان دولت ته ورکړي .

که چېرته د افغانستان دهوايې ترانزيت مديريت له تېرو (۴۰ ) کالو را په ايسته روغ اوخپلواک واى ، اوس به يوازې د هوايي ترانزيتي سرچينې د عايداتو له لارې افغانستان په خپله ملي بودجه کې ( ۲۳۲۵۰۵۰۰۰۰ ) ډالرلرل . خومتأسفانه چې هغه موږ ته نه دي راکړشوي اولاهم ځينې پوځي ستردګرونه د امريکايانو په لاس کې دي .
په هغو (۹) ساحوي زونونوکې چې امريکايانوخپل پوځي تأسيسات او بېزونه رغولي اود افغانستان خاوره يې له خپلو سمندري قرارګاه وو سره پرې تړلې ، د هغوخوهېڅ خبره نه کيږي چې دوى هلته څه روان کړي دي ؟ ځکه هغو بېزونوته بېرته له امريکايي پوځيانونورهېڅ افغان چارواکى د ورتلواوابنتنې پوښتنې اجازه اوحق نه لري .

اوس خودلته پرآريانا افغان هوايي شرکت سربېره په لسګونونوربهرني هوايي شرکتونه هم فعال دي چې په هېواد کې د ننه ، اوله هېواد څخه بهرالوتنې ترسره کوي . هغوى هم افغانستان ته ټکس اوماليه ورکوي چې ددغې ټکس اومالیې ورکولوروغ او پرځاى منبجمبنت ته يې له سره اړتيا ليدل کيږي .

که چېرته موږد پخوا په څېرسړي سرخاک پولې (۱۰) ډالرحساب کړو، نولږ ترلږه د ورځې له افغانستان څخه بهرته د لېږد را لېږد (۳۵۰) ، او په دا خل کې هم تر (سلو ) زيات پروازونه کيږي ، که چېرته موږ په اوسط ډول د هرې الوتکې عمله (۱۰۰) تنه پوځيان حساب کړو، د (۳۵۰) الوتکوهره ورځ ټوله عمله (۳۵۰۰۰) تنه کېږي ، که د هرسړي خاک پولي يعنې (۱۰) ډالره په (۳۵۰۰۰) سياره عمله کې ضرب کړو ، ټوله ورځنۍ خاک پولې (۳۵۰۰۰۰) ډالرکېږي ، اوکه دا رقم د يوکال په (۳۶۵ ) ورځوکې ضرب کړو، نو ټول حاصل به (۱۲۷۷۵۰۰۰۰) ډالرشي .

همدې ته ورته د هېواد په داخل کې هم د بهرنيومرستندويه ټولنواوهم د ملکي هوايي شرکتونوله خوا هره ورځ ، هره اونۍ اوهره مياشت په لسګونوالوتنې ترسره کيږي . که چېرته د هغوى ټکس اومالیې هم سمې مديرت شي نوله دې لارې هم په کورنيوعائداتوکې د پام وړ زياتوالى را تلاى شي .

(( د افغانستان اقتصادي پر مختګ )) په نوم کتاب چې کرستين لنګه او رياشوکهاو کيلى او ابراهيم هوتک په پښتو ژباړلى دي د افغانستان د هوايي تراتنزيت په برخه کې ليکلي :

(( د هوايي کرښود مسافرينوخدمات :
د ا هېواد (۳) نړيوال او (۶۲) کورني هوايي ډګرونه لري . بشري ټو لنه کولاى شي چې د تجارتي ، غير دولتي سازمان (PAC TEC) ، ملګرو ملتونو (UNAMAاوUNHAS) او د سره صليب د نړيوالې کمپنۍ له خدماتو څخه ګټه واخلي .))
د ياد بحث په يوه بله برخه کې يې ليکلي : تدارکات ،هوايي خدمات : ((UNHAS))
د تجارتي هوايي کرښود هوايي خدماتو 7 مهم وړاندې کوونکي شتون لري چې د هېواد په د ننه کې الوتنې کوي : (( UNHAS,ICRC.UNAMA.TEC.PAC)) د هوايي کرښود مسافرينوخدمات د (2012 ) کال د نومبرمياشت :

ورپسې يې زياته کړې ده چې : (( ډېرى وختونه امنيتي او روغتيايي آسانتياوې د هوا يې خدماتو د کمښت له امله په غرني افغانستان کې ستونزمن وي ، له همدې امله لږ ترلږه (۲۰۰) نوروغيردولتي سازمانونواو بسپنه ورکوونکواستازوته اړتيا ده چې د هوا له لارې د خپل اشتغال کچه (٪۶۵) ته لوړه کړي ، همدغو سازمانونو په مياشت کې (۲۵) مرکزونو ته الوتنې کړې دي او د (۲۵۰۰)تنو په شاوخوا کې خلک يې لېږدولي را لېږدولي دي . ))

**(۲۰۰) نادولتي سازمانونوپه افغانستان کې د خپلو بوختياوو په تړاوافغان دولت ته بايد د خپل هوايي لېږد را لېږد ټکس ، ماليه اوخاک پولي ورکړې .**

**پايله :**

**موږ په هېواد کې د هوايي ترانزيت پرېمانه سرچينې لرو، د توکود انتقال ( لېږد را لېږد ) پروسه خويي لا ښېلـه ده چې مـوږ بايد له هغې لارې څخه هم محصول اود هوايي ګمراتوعايد ترلاسه کړو . خوستونزې چېرې دي اوڅنګـه د ې ستونزوته د حل لارې ولټووترڅود هوا يي دهلېزونوعايداتي سرچينې پرې عادي ، کره اويقيني کړو؟**

**کـه مـوږ دې مسـئلې تـه پـه ځيرسـره وګـورود افغانسـتان د کورنيوعائداتوپـه وړانـدې بهرنيوځواکونـو، خيريـه ټولنواوسـازمانونوهم د افغـان دولـت پـه وړانـدې د خپلومـوازي حکومتونوجوړولولـه کبلـه ځينـې خنډونـه جوړکړي اوپـه ځمکنيواوهوايي دهلېزونوکې يې زموږعائداتو ته صدمه پرې رسولې ده چې بايد داسې يې نـه واى کړي . ځکـه افغانسـتان خپلـه يوداسـې ببوزلـه اوفقيرهېـواد دئ چـې لا يـې هـم نوروتـه د مرستوغوښـتلوپه موخـه لاس وراوږد کـړى ، نـود خپلوکورنيوهغوممکنه عائداتوبرخې خو بايد پرې پارچاوې نه شي چې په خپل هېواد کې يې د شتون امکانات ورتـه شته ، بلکې په دغو برخوکې بايد نورې مرستې ورسره وشي ترڅوپه اقتصادي محاظ نورهم پياوړي شي .**

**دولت له هرې ممکنه لارې څخه د خپلوملي عائداتود تحفظ ، ودې او پياوړتيا له پاره ترټولومعتبره ، ذمـه واره اومسؤوله مرجع ده چې بايد له هرې خوا يې بشپړه څارنه اومديريت وکړي ، خوله دولت سره ملت هم ترلى دئ چې بايد پـه ټولـوملي ټولګټوکارونوکې د خپل دولت ننګه اومرسته وکړي ، ترڅولومړى دولت اوملت په ګډه خپل ملي نظام پياوړى کړي ، ځکـه عائداتي نظام له حکومتي ملي نظام پرته نه خوپرمخ ځي اونـه هم ژوندى اوخوندي پاتې کېدى شي . دوام لري .**